مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوحید وحید ۲۰۲۶/۱۰/۳۱

له خبرو څخه مخکې شرطونه؛ د پاکستان متکوره تګلاره

له افغانستان څخه د پاکستان لخوا د مشخصو او د تایید وړ امنیتي اقداماتو غوښتنه د خبرو اترو لپاره د اجنډا په توګه د درک وړتیا لري، خو د حیرانتیا خبره داده چې دغه غوښتنه د خبرو په جریان کې د بحث لپاره اجندا نه، بلکې د خبرو او مذاکراتو د پیل لپاره د مخکینې شرط په توګه وړاندې کیږي. که له مذاکراتو څخه د پاکستان موخه د امنیتي ستونځو حل وي، نو د دغه هیواد امنیتي اندیښنو او غوښتنو ته د خبرو له پیل څخه مخکې عملاً ځواب ویل د خبرو اړتیا او اهمیت له منځه وړي. تعجب دی، هغه څه چې باید د خبرو په بهیر کې مطرح او وڅېړل شي، پاکستان یې له خبرو څخه وړاندې تحقق غواړي.

د افغانستان په هکله د پاکستان د نیابتي تګلارو په نتیجه کې پښتونخوا ته د ناامنیو رسیدل ددغې تګلارې ناکامي د تاریخ جبر او یا هم د دغه هیواد د سیاستونو تازه رنګ او نیرنګ وګڼو، خو واقعیت دادی چې د پاکستان ولس نن د ستونځو په عین هغه ګرداب کې قرار لري چې افغانان له څو لسیزو راهیسې پکې نښتي وو. ځومره به ښه وای چې دواړو خواوو د ناامنیو سرچینې مشخصې کړې وای، دوه اړخیز تورونه یې څېړلي وای، د مسوولیتونو او مکلفیتونو په هکله یې بحثونه کړي وای او په ګډه یې داسې میکانیزمونه رامنځته کړي وای چې د دواړو هیوادونو لخوا ترسره کیدونکي ژمنې د تایید او څار وړ ګرزیدلي وای. له افغانستان څخه د پاکستان غوښتنه چې د مېز په سر خبرو ته له کیناستو څخه وړاندې د ددغه هیواد امنیتي غوښتنو منل تضمین کړي مذاکرات له دوه اړخیز بهیر څخه د اطاعت او بغاوت ترمنځ انتخاب ته اړوي او افغاني تاریخ ته په کتو اطاعت د افغانانو لپاره د منلو وړتیا نه لري. دا غوښتنه د شخړې د اصلي عواملو د څېړلو لپاره شونتیا محدودوي او د دوو هیوادونو ترمنځ د اړیکو له دیپلوماتیک چوکاټ څخه وزي.

اوږدمهاله امنیت د داسې غوښتنو له لارې نه رامنځته کیږي چې یو لوری باید خپل سیاستونه د مقابل اړخ له غوښتنو سره سم کړي. که پاکستان په افغانستان کې د وسلوالو ډلو شتون د خپلې ناامنیو مهمه سرچینه ګڼي، نو دغه اندیښنه باید د مذاکراتو په میز باندې مطرح شي او په عین حال کې د افغانستان لخوا ورته اندیښنې هم د امنیتي وضعیت یوه برخه ده؛ په دغو اندیښنو کې هوایي بریدونه، د ملکي وګړو مرګ‌ژوبله، له ډیورنډ کرښې هاخوا څخه د ترهګرو را استول ، د سوداګري او تګ‌راتګ محدودیتونه او نورې داسې یو اړخیزې کړنې شامل دي چې کابل یې د خپلې ناامنۍ له عواملو څخه ګڼي.

د پاکستان د تګلارې نیمګړتیا هغه مهال راڅرګندېږي چې یاد هیواد خپله ناامني د افغانستان لخوا اقداماتو پایله وګڼي او په افغانستان باندې د پاکستان تیرې یوازې دفاعي ګامونه وګڼل شي. د نړیوالو نورمونو له مخې که د کوم هیواد لخوا د خپل د امنیت په اړه له بل هیواد څخه د ترهګریزو بریدونو ځینې ادعاوې په شواهدو باندې ثابتې هم شي، مذاکرات بیا هم ددې لپاره اړین دي چې دواړه لوري ممکن د مسوولیتونو، شواهدو، تناسب او د مناسب غبرګون په اړه اختلاف ولري.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

له همدې امله، مشخص او د منلو وړ امنيتي ګامونه بايد د خبرو د پيل شرط نه بلکې د يوه هوکړه شوي مذاکراتي ميکانيزم پايله وي. دواړه لوري بايد له خپلو اړوندو سيمو څخه د بريدونو د مخنيوي، د استخباراتي معلوماتو او شواهدو د شريکولو، د جنجالي پېښو د څېړلو، د وسلوالو ډلو د فعاليتونو د مخنيوي، د سرغړونو د ادعاوو د ارزوني، د ملکي وګړو د خوندیتوب او د هغو کړکېچونو د مديريت لپاره چې ښايي په پوځي تقابل بدل شي، متقابل طرزالعمل رامنځته کړي.

د دواړو هېوادونو ترمنځ د کړکېچنو اړيکو تاريخ ته په کتو او د اوسنيو واقعيتونو په پام کې نيولو سره، داسې ښکاري چې په افغانستان کې د پاکستاني سياستونو له امله په غير ارادي توګه د دواړو هېوادونو امنيت له يو بل سره ترڼ شوي دی د امنيت مسؤوليت د يوه لوري پر غاړه اچول د توجيه وړ کړنه نه ده . دواړه هېوادونه مسؤوليت لري چې د يو بل له خاوري څخه د خپلو امنيتي اندېښنو په اړه مشخص او د تاييد وړ شواهد وړاندې کړي، د پوځي اقدام پر ځای د خبرو او ګډو څېړنو لارې ته لومړيتوب ورکړي. دواړه لوري بايد د خپلو اقداماتو د پايلو مسؤوليت ومني او د بل لوري مشروع امنيتي اندېښنې د خبرو له لارې وڅېړي.

په دغه چوکاټ کې، د يوه لوري امنيت بايد د بل لوري د ناامني په بيه تأمين نشي. که افغانستان د خپلې خاوري د کارونې له امله د پاکستان پر وړاندې د امنيتي ګواښونو د مخنيوي مسؤوليت لري، پاکستان هم همدغه شان مسؤوليت لري چې په خپله خاوره کې د هغو جنګي ډلو د فعاليتونو مخه ونيسي چې افغانستان ته امنيتي ګواښ رامنځ ته کوي او دا چې خپلې امنيتي اندېښنې د داسې لارو له مخې تعقيب کړي چې د افغانستان حاکميت، د ملکي وګړو خوندیتوب او د شخړې د سياسي حل امکان زيانمن نه کړي. په همدغه چوکاټ کې د امنيتي ضمانتونو لپاره تر ټولو عملي لاره د متقابل ميکانيزم رامنځته کول دی چې دواړه لوري پکې ژمنې وکړي، د ژمنو د عملي کولو څارنه وشي، سرغړونې په ګډه وڅېړل شي او د اختلافونو د حل لپاره له مخکې څخه ټاکل شوي لاري موجودې وي.

د پاکستان لخوا د هر اړخيز فشار د رامنځته کيدو کال پوره شو خو نتيجه يې لاهم مطلقاً منفي ده. په دغه تړاو مو مکرراً ليکلي دي چې تاريخ پاڼو ته په کتو په افغانستان کې د بهرنيانو لخوا د فشار ستراتيژی معکوسې پايلې لري او پاکستان هم مستثنی نه دی. د مسئوليتونو او اقداماتو متقابل ميکانيزم د هغې ناامنی د مخنيوي لپاره هم مهم دی چې د امنيتي فشارونو له امله پخپله رامنځته کيږي يا هم پراخه کيږي. پوځي فشار، اقتصادي محدوديتونه، د تګ‌راتګ او سوداګريزو دروازو ترڼ او د اختلافونو د حل لپاره د اټکل وړ او مستقيمو اړيکو لپاره د فورم نشتوالی کولای شي تاوتريخوالی زيات او د شته امنيتي ستونځو مديريت نور هم ستونځمن کړي.

که پاکستان له افغانستان څخه د امنيتي تضمينونو په ترلاسه کولو ټينګار کوي، د خبرو لپاره مخکيني شرطونه ږدي او خپله برخه مسوولیت له پامه غورځوي، ممکن له امريکا سره د همغږي له امله مادي امتياز ترلاسه کړي خو د پاکستان له اوږمهاله ملي ګټو سره قطعاً سمون نه خوري او ممکن د ستونځو په منځ کې ايسار پاتې شي. د مستقيمو اړيکو، د شواهدو د شريکولو، ګډې څېړنې او متقابلو ژمنو د عملي کولو لپاره د يوه فعال ميکانيزم له نشتوالي سره به ادعاوې د مذاکراتو پر ځای د يو اړخيزو اقداماتو له لارې تعقيبېږي؛ بېباوري به ژوره شي، له کابل څخه د همکاري د ترلاسه کولو ظرفيت به محدود شي او د پولې دواړو غاړو ته به د امنيتي ګواښونو مديريت لا ستونځمن شي. اوس پوښتنه دا ده چې په سيمه کې دغه ډول صورت حال رامنځته کول خو به د پاکستان د ستراتېژيک عمق د تګلارو نوی رنګ او نيرنګ نه وي؟

په لنډه توګه بايد ووايو چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ تلپاتې امنيت د مخکينيو شرطونو په ايښودلو نه، بلکې د متقابل مسؤوليت، خبرو او د باور وړ دوه اړخيزو تضمينونو له لارې رامنځته کېدای شي. پاکستان کولای شي د خپلې خاوري پر وړاندې د امنيتي ګواښونو د مخنيوي غوښتنه وکړي، خو افغانستان هم حق لري له پاکستان څخه ورته متوجه امنيتي اندېښنې مطرح کړي. له همدې امله، امنيت بايد د خبرو شرط نه، بلکې د خبرو موضوع او پايله وي. که دواړه لوري د يو بل مشروع اندېښنې ومني، خپل مسؤوليتونه واضح کړي، د عملي کېدو او تاييد وړ ژمنې رامنځته کړي، د شخړې د موقت مديريت پر ځای به د تلپاتې امنيت رامنځته کيدو لپاره امکانات برابر شي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ